ګل آغا احمدي وردګ

# افغان طبي آله یا د ویاړونو نوښت

هره ټولنه او هیواد په خپله غیږه کې یو لړ داسې شخصیتونه لري چې نومونه یې د ملي اتلانو په توګه د تل لپاره د هیواد د ویاړونو په تاریخ کې لیکل کیږي. په دې لړ کې نن بیا د یوه داسې شخصیت معرفي له تاسو قدرمنو سره شریکوم چې د خپل زیار، تحصیل ، هڅو او څیړنو په وسیله یې د روغتیا په ډګر کې داسې یوه آله جوړه کړې ده چې په نړیواله کچه منل شوې، اړوندو نړیوالو کمپنیو یې جوړول، استعمال او نړیوالو مارکیټونو ته وړاندې کول منلي دي. همدارنګه په نړیواله کچه سربیره نوموړې آله یا وسیله په ملي کچه هم په پراخه توګه مقبولیت ترلاسه کړی چې د ملي دفاع د وزیر جلالتمآب ستر جنرال عبدالرحیم وردګ له خوا د ښاغلي ډاکتر محمد اسماعیل وردګ د ویاړمنې لاسته راوړنې ستاینه او تقدیر د دې ادعی د پخلي لپاره غوره ثبوت ګڼلی شو.

څو ورځې د مخه په نړیوال ډګر کې د همدې آلې د نوي پرمختګ په هکله ښاغلي ډاکتر محمد اسماعیل وردګ یو بریښنالیک یا ایمیل ښاغلي انجنیر احسان الله آرینزي صاحب ته لیږلی وو چې د دغې آلې د نوي پرمختګ په هکله یې نوموړي ته خبر ورکړی وو. ښاغلي آرینزي صیب له ما څخه د ایمیل په وسیله غوښتنه کړې وه چې دغه معلومات زموږ د ټولنې له پرګنو ، د علم، پرمختګ او کلتور له مینانو سره شریک کړم خو ما ته پخپله په دې هکله لازم معلومات او وضاحت نه وو څرګند شوی نو له محترم ډاکتر اسماعیل وردګ څخه مې د بریښنالیک په وسیله غوښتنه وکړه چې ما ته د همدې آلې په هکله لږ معلومات راکړه چې زه پرې پوه شم، یوه لیکنه پرې وکړم او له نورو افغانانو سره یې شریک کړم چې دا څه ډول آله او د څه لپاره په کار راځي؟ سره له دې چې ښاغلي ډاکتر محمد اسماعیل وردګ ځینې معلومات د تیلفون له لارې په شفوي توګه او ځینې د ایمیل له لارې په انګریزي ژبه له ما سره شریک کړل خو ما بیا هم د زیات وضاحت لپاره غوښتنه ترې وکړه چې که په خپله ملي ژبه په دې هکله یو څه راته ولیکي غوره خبره به وي ځکه چې طبي اصطلاحات دي کیدای شي زه یې په داسې ډول تشریح نه کړم چې مناسب وي. له نیکه مرغه ښاغلي ډاکتر صاحب محمد اسماعیل وردګ زما غوښتنې ته مثبت ځواب ووایه او لاندې معلومات یې له ما سره شریک کړل چې تاسو یې ته د لوستلو بلنه درکوم:



ډاکتر محمد اسماعیل وردګ

(په کال ۱۹۹۹ کی د وسله وال پوځ د طبي علومو په اکادمۍ کې چې اوس د شهید سردار محمد داوود خان په نامه یادیږي د لومړي ځل لپاره داکتر محمد اسمعیل وردک داسې یوه طبي آله جوړه کړه چې د ځنګانه او ځنګل د ماتو هډوکو د درملنه پرې آسانه شوه. مخکې به جراحانو د بدن د دغو دوو برخو د هډوکو د درملنې لپاره دوه ځلي جراحي عملیات ترسره کول او د ناروغ په لاس یا پښه به یې پلستر تطبیق کاوه. خو د دغې آلې په مرسته چې اوس د افغان طبي آلې په نامه یادیږي ناروغ د پلستر او دوه ځلې عملیاتونو څخه خلاصیږي. دغه آله چې ډیره ساده بڼه لري د سیخانو په وسیله د ناروغ کسر د یوه ډیر مهم میکانیزم تر اثر لاندې تثبیت کوي چې د دغه میکانیزم ساری په نړۍ کې تر اوسه هیڅ طبي آلی نه درلود. نوموړې آله کم وزن لري او ناروغ کولای شي چې د هغه د استعمال په لړ کې خپلو ورځنیو کارونو ته هم ادامه ورکړي. په دې معنی چې که څه هم چې پښه یې ماته وي او د دې آلې څخه ګټه اخلي نو یو ډیریور خپله ډریوري کولای شي او یو بزګر د ورته تکلیف په درلودلو سره سره خپلې بزګرۍ ته په ډاډمنه توګه دوام ورکولی شي. هیڅ داسې کوم پلستر ته چې د بندونو د شخۍ سبب ګرځي ضرورت نه لیدل کیږي او د تثبیت موده هم پکښې را لنډه کیږي. ناروغان په لومړیو ورځو کې د بستر څخه خارجیږي او د سیخانو بیرته خارجول هم له بدن څخه هیڅ ډول انستیزۍ ته اړتیا نه پیدا کوي.

د دې آلې په جوړیدو او استعمال کې د ډاکتر اسمعیل وردک د استاد (ښاغلی پروفیسور عبدالرزاق سیاووش) او نورو ټولو نظامی اورتوپیدي ډاکترانو هلې ځلې د قدر وړ دي.

غه آله په لومړي پړاو کې د نورو طبي سامانونو څخه جوړه او بیا د ښار په ورکشاپونو کې په شخصي مصارفو تهیه شوې وه. تر اوسه پورې له 200 څخه ډیر ناروغان پدې آلې باندې تداوي شوي دي چې له نیکمرغه د ټولو عملیاتو نتایج مثبت او بریالي دي. د دې ناروغانو دوسیې ټولې د افغان آلې له مخترع ډاکتر محمد اسماعیل وردک سره موجودې دي. اوس د وسله وال پوځ د روغتون سربېره دغه آله په وزیر محمد اکبر خان روغتون او ولایتي روغتونونو کې هم کارول کیږي. ځوان داکتران دغه میتود په ساده توګه زده کولی شي او هم کولاي شي دغه آله پخپله وکا روي. په لومړیو کلونو کې سره له دې چې یو شمیر محدودو کسانو په دې اړه منفی تبلیغات خپرول خو بیاهم دغه میتود خپلې بې سارې پایلې په لوړه کچه و ښودلې. اوس مهال په نړیواله کچه د دې میتود او اختراع څخه پلوي شوې ده او په لاند ینیو نړیوالو غونډو کې د یوه په زړه پورې کنفرانس په ترڅ کې د ډاکتر محمد اسمعیل وردګ له خوا د نړۍ د اورتوپیدي ډاکترانو ته پیژندل شوې ده چې تفصیلات یې په لاندې ډول دي:

- په کال 2004 دوپنځوسم نړیوال اورتوپیدي کانګرس Germany.
- په کال 2005 پنځه دیرشم نړیوال نظامي طبي کنفرانس واشنګټن ډي سي United States of America.
- په کال 2006 (BAMC) اورتوپیدي کنفرانس Saint Antonio taxas United States of America.
- په کال 2008 اولسم نړیوال اورتوپیدي کنفرانس نوی ډهلی India.
- په کال 2008 (SIGN) نـــړیوال کنفرانس واشنګټن ستیټ United States of America.
- په کال 2008 (SOMOS) پنځوسم نظامي اورتوپیدي کانګرس لاس ویګاس United States of America.
- په کال 2009 (OTA) پنځه ویشتم نړیوال اورتوپیدي کنفرانس سان ټیا ګو United States of America.
- په کال 2009 شپږم نړیوال SICOT,SIROT کنفرانس کانګرس بنکاک Thailand.

دافغان طبي آلې د تولید تړون اوس له یوې لویې طبي کمپنۍ سره چې د Smith & Nephew په نامه یادیږي ترسره شوی دی. او د دغې کمپنۍ له لارې یې د (FDA) اجازه هم ترلاسه کړې ده.

دغه ټولنه (FDA) چې په امریکا کې ده د ټولو خوراکي توکو ، طبي درملو او طبي وسایلو اجازه پس له ډیرو سختو شرایطو او پړاونو څخه ورکوي. پر دې سربیره دغه آله د اختراع راجسټرهم لري چې (Patent Pending) نومیږي او د افغانستان نوم یې د لومړي ځل لپاره د نړۍ د اختراعاتو په کتار کې ځای په ځای کړی دی.
تیر کال د دغې آلې یوه نمونه چې د طلا پوښ لري د امریکا څخه د ملي دفاع وزارت ښاغلی وزیر ته راوړل شوه او مخترع محمد اسماعیل وردګ ته وسپارل شوه ،پس له دې دغه آله کولای شي چې په طبي مارکیټ او لیتراتور کې خپل ځای ونیسي او د ټولو زړو میتودونو ځای ناستې وګرځي)

په داسې حال کې چې د وردګو کلتوري یون د ښاغلي ډاکتر محمد اسماعیل وردګ په دغه لویه لاسته راوړنه ویاړي او هغه ته مبارکي ورکوي نوموړي ته د خدای (ج) له دربار څخه د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله کوي. همدارنګه د وردګو کلتوري یون د افغاني ټولنې له ټولو پرګنو څخه هیله لري چې په خپلو ویاړمنو شخصیتونو وویاړي. راځئ چې د خپلې ټولنې ویاړلې، مخترعین او هڅاند شخصیتونه و نمانځو، هغوی تقدیر کړو او لږ تر لږه هغوی ته د دغه ډول تاریخي ابتکاراتو له امله شاباس ووایو څو نور هم تشویق شي او د لا زیاتو ویاړونو خاوند وګرځي. په درنښت، ګل آغا احمدي وردګ

د افغان طبي آلې انځوریز البوم



د افغان طبي آلې انځور چې د ښاغلي ډاکتر محمد اسماعیل وردګ په نوښت جوړه شوې ده



د افغانستان د ملي دفاع وزير ستر جنرال عبدالرحيم وردګ د افغان طبي آلې تقدير کوي




د فوټبال يو داسې لوبغاړی له افغان طبي آلې څخه ګټه اخلي چې پښه يې ماته ده او خپلو لوبو ته په ډاډمنه توګه دوام ورکوي



د فوټبال د همدې لوبغاړي يو بل انځور چې افغان طبي آله استعمالوي او خپلې لوبې ته دوام ورکولی شي